مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۶/۱۴

غزل

لـکه غـرونــه اور ســاتــمـه پـه سینه کښې
زړه مې لوی دی نور ساتمه په سینه کښې

لــه مــرګـي او غــرغـرو نـه نـه وېـرېږم
زولــنــو تــه زور ســاتــمـه پـه سینه کښې

خـېـر کـه نـن دا ستـا اسیـر او بندېوان یـم
زه پښتون یـم، پور ساتـمه پـه سینه کښې

وینــه نه مــیـنـځم پـه وینه داسې نـه شي
د الفت تـکـور ساتــمـه پـه سینـه کښـې

د ازل کـرښـه پـه زور بــدلــه نـه شـي
پسـرلـېـه ورور ســاتـمـه پــه سینـه کښې

۲۰۲۰/۰۶/۱۴

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ